عملونه شپږ دي او خلک څلور ډوله دي، دوه عملونه دي چې واجبوونکي دي، او - بل ډول - سر په سر، او نیکي یو په لس چنده ده، او - بل ډول - نیکي په اووه سوه ده

له خریم بن فاتک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «عملونه شپږ دي او خلک څلور ډوله دي، دوه عملونه دي چې واجبوونکي دي، او - بل ډول - سر په سر، او نیکي یو په لس چنده ده، او - بل ډول - نیکي په اووه سوه ده ؛ نو هغه دوه عملونه چې واجبوونکي دي- دا دي چې - څوک پداسې حال کې مړ شو چې د الله تعالی یې سره یې شرک نه وي کړی نو جنت ته داخل شو، او څوک چې مړ شو پداسې حال کې چې د الله تعالی سره یې شرک کړی وي اور ته داخل شو، او هغه چې سر په سر دي - دا دي چې - چا د نیکۍ اراده وکړه تر دې چې په زړه کې یې احساس کړي او الله تعالی یې په نیت پوه شي نو نیکي به ورته ولیکل شي، او چا چې ګناه وکړه، نو ګناه به پرې ولیکل شي، او چا چې نیکي وکړه نو لس چنده به ورته حساب شي، او چا چې د الله تعالی په لار کې څه ورکړل نو یوه نیکي په اووه سوه ده. او خلک چې دي؛ نو یو ډول یې داسې دي چې په دنیا کې پرې پراخي وي خو په آخرت کې به پرې تنګستیا وي - او بل ډول یې هغه دي چې - په دنیا کې پرې تنګستیا وي او په اخرت کې پرې پراخي وي، - او بل هغه دي چې - په دنیا او آخرت دواړو کې پرې تنګستیا وي - او بل هغوی دي چې - په دنیا او آخرت کې پرې پراخي وي».

[حسن] [احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې عملونه شپږ ډوله دي او خلک څلور ډوله دي، او هغه شپږ عملونه دا دي: لومړی: څوک چې پرته له دې چې له الله تعالی سره څه شریک جوړ کړي مړ شي، جنت ورته واجب دی. او دویم: څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې له الله سره یې شرک کړی وي، هغه ته اور واجب شو او تل به پکې وي. او دا دواړه واجبوونکي دي. او دریم: هغه نیکي چې - یوازې - نیت یې شوی وي، نو چا چې د نیک عمل نیت وکړ نیت پوه شو خواو په خپل نیت کې رښتینی و، تر دې چې هغه یې په زړه کې محسوس کړ او الله تعالی د هغه پدې بیا ورته یو کار رامخې ته شو چې له امله یې نومورې عمل تر سره نه کړای شو، نو د هغه لپاره پوره نیکي لیکل کیږي. څلورم: هغه بد عمل چې تر سره شوی وي؛ نو چا چې بدي وکړه، د هغه لپاره به یوه بدي ولیکل شي. او دا هغه دوه عملونه دي چې سر په سر دي او زیاتوالی پکې نشته. پنځم: یوه نیکي چې د لسو نېکیو سره برابره ده، دا هغه څوک دی چې د نیکۍ نیت یې کړی وي او نیکي یې تر سره کړی وي، نو د ده لپاره لس نیکۍ لیکل کیږي. شپږم: یوه نیکي د اوو سوو نېکیو سره برابره ده، او څوک چې یو ځل د الله په لاره کې انفاق وکړي، نو دا نیکي ورته اووه سوه نیکۍ لیکل کیږي، او دا د الله تعالی له فضل او سخاوت څخه دي په خپلو بنده ګانو. او کوم چې څلور ډوله خلک دي نو په لاندې ډول دي: لومړی: هغه څوک دی چې په دنیا کې یې رزق پراخه وي، په نعمتونو کې وي، څه چې وغواړي هغه پکې مومي، مګر په آخرت کې به پرې تنګستیا وي او تګ به یې د دوزخ لورې ته وي، دا هغه کافر دی چې شتمن وي. او دویم: هغه څوک دی چې په دنیا کې پرې د رزق تنګستیا وي، خو په آخرت کې پرې پراخي وي او منزل یې جنت دی، دا غریب مؤمن دي. او دریم: هغه دی چې په دنیا او آخرت دواړو کې پرې تنګستیا وي، چې دا فقیر کافر دی. او څلورم هغه څوک دی چې په دنیاو او آخرت دواړو کې پرې پراخي وي، چې دا مالداره مؤمن دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65014